یوه درخ دے په څه کار نوروال کلی ته لاړ شهٔ۔ کوم وخت چه دے واپس راتهٔ نو تیاره شوے وه۔ په لار کښې کوربله په را تلو کښې دهٔ یوه جینئ ولیده چه ډیر کالی پترې یې غورځولی دو او دَ یوے جینئ په خوا کښې ولاړه وه :۔

عرش الله دَ دے دَ ښائست نه ډیر متاثره شهٔ۔ او خیال کښې ئې راغلل چه دَ دهٔ به دا ښهٔ قِسمت وی که دے سره یې واده اُوشی۔ ولے بچے دا واده شوی نه وی :۔

دهٔ هغه خوادےخوا وَکتل لیکن دَ هغې سره هیڅوک سړے ملګرے نه وهٔ دَےکوشش کښې وهٔ چه دَ دے متعلق څه پته معلومه کړی۔ لیکن دے نه مخکښې چه ده څه ویلے وے، هغې او ویل ” اے مسافره زهٔ یریږم او که تهٔ مهربانی اُوکړے او ما سره دَ بحرین دَ بریکوټ پورے ملګرے شے۔ عرش الله ډیر زیات خوشحاله شهٔ او هغې ته یې او ویل چه زهٔ به دا ډیره لویه خوشحالی وګڼم چه ستا ملګرتیا وکړم

دوی دواړه روان وُو او بریکوټ دَ جینئ دَ خواهش منزل ته ورسیدل عرش الله دے جینئ ته اُو وے ” اے یوے ښکلے خُما دِ بخیل عزت قسم وی چه تهٔ دَ خداوند تعالیٰ په پیدا ئیش کښې دَ ټولو نه ډیره ښائسته یې۔ که زهٔ دَ دے ځائے بادشاه وے نو ما به ټول کوهستان ستا دَ مخ په دے یو خال قربان کړے وُو ”

دهٔ ترے مخکښې تپوس وکهٔ۔ او تهٔ واده شوے یې؟“ هغې یو سوړ اسویلے اُوکه او جواب کښې یې اُو وے زهٔ یو غریب مخلوق یم، ما سره به څوک واده وُکړی خو دَ عرش الله دَ باره دا عجیبه وشوه چه دَ دے خبرو اثر و په دوران کښې

شروع شول

دَ راجه هم په خپله اول ځل سُر شهٔ - بیا اُودی شهٔ - او بیائے رنګ دَ مړی په شان سپین او تختیدهٔ - لږ ساعت د رستو راجه دَ هغه ټول خاندان او نوکران ژوندی نه وو بلکه مکمل شوی وو -

---

دا قصه دَ دنګرام (سوات) احمدعلی بنیا کړے ده
هغه دَ پنځه اتیا (۸۵) کالو په عمر کښې وفات شوے دے

راجه د ظلم په بارده کښې اوریدلي وو. بڅها جوګي بریکوټ طرف
ته روان شو. کوم ځائې کښې چه د دې راجه محل وو. جوګي
بدماني سره پلاس کښې یوه همساوه. او جامې ئې خیرې وې، چه کوم
وخت دې محل ته نزدې شو. نوکرو ورته اووې چه زه محل
ته ننوتل غواړم. نوکرو اووې اې بڅها سړیه! ته د چا سره ملاویدو غواړې
بدماني جوګي جواب ورکه زه د لرې ځائې نه راغلې یم. او محض د دې دپاره
چه ستاسو راجه اووینم. هغه ته اووایه چه زه د هغه سره ملاقات
کول غواړم. پیغام وړونکې محل ته د ننه لاړ شو. او راجه ئې خبر کړو
چه یو بڅها سړې ستاسره ملاویدو غواړي. راجه حکم وکړو چه هغه دې
زما حضور ته راوستې شي. جوګي محل کښې داخل شو چه د هغې شکل د
یوې قلعې په شان وو۔

راجه د ده نه تپوس وکړو چه اې بوډها سړیه. ته دلته څه راوستې
ئې. جوګي جواب ورکړو ستا ظلم. راجه بڅها سړي ته په تعجب سره
وکتل. ځکه چه د ده په یو ټول ژوند کښې ده ته یو داسې سړې نه معلومیدو
چه هغه به داسې ده ته کوز اوګوري. راجه اووې. اې بڅها سړیه
آیا ته دا معلومه ده چه زه د څه شان جادو طاقت مالک یم
په دې زمانه کښې یو هم داسې جادوګر نشته چه هغه ما مغلوب کړي
بدماني اووئیل چه ما ته اووایه چه ته څه جادو طاقت لرې. او ته
څه کولې شې. راجه خپلې سترګې بند کړې. او د سترګو په رپ کښې
د زمکې نه اوچت شو. او هوا کښې ودریدو. بیا جوګي بدماني ته راوکتل
او وې وئیل "آیا ته څما غیرِ معمولي طاقت اوس وینې. جوګي جواب
کښې اووې، د کوم ځائې نه تا دا طاقت حاصل کړې دې، راجه اووئیل
د کپل دیوی (کاکاس) نه. جوګي اووئیل" لیکن د کپل دیوی (کاکاس)
په شان خو څما ډیر شاګردان دي. راجه غضب کښې شو. او وې
وئیل چه کچرې ته واقعي د کپل دیوی (کاکاس) نه زیات طاقتور ئې. نو
ثابته کړه. جوګي د ده سترګو ته وکتل. په ده ئې د نوکلو او څه د
جادو الفاظ ئې اووې. نوکران د یرې نه زیړ شو، او په ریښیدو

# شپاړسمه قصه

ګټه چه يو ځل ژوندئ دے

په پخوانئ زمانه کښې په سوات کښې يو راجه وه چه نوم ئې اُپاله وه، د ده نيکونه لوئ جادوګر تير شوي وو - راجه اُپاله هم د جادو طاقت د دوئ نه زده کړے وه - دے ډير طاقتور سړے وه - او د رياست د يو سر نه بل ته به د لوګي په زانګو کښې الوت -

د روايت مطابق د دے راجه نيکه د جادو په زور سره يوه طاقتوره کپَل نومے ديوي (ګاډس) مطيع کړے وه چه د هغې سر د زنانه په شکل وه - او نور وجود ئې د اژدها په شان وه - د دے ديوي (ګاډس) د سوات په ټولو خلقو باندې لوئ هيبت پروت وه - ځکه چه محض د دے په رضا منحصره وه چه خلقو به د آرام ژوند تيراوه - او کچرے هغه په غضب کښې شوه هغې به خپل وجود بلن که - او تناؤ به ئې دومره لوئ شه چه د سوات په سين به د يو بند شکل جوړ شه - او بيا به ټول ملک طوفانونه کيدل - او بيا ځکه چه خلقو ته دا معلومه وه چه راجه اُپاله دغه طاقت خپل کړے دے نو هغوئ يريدل چه کچرے د قهر شي نو دا به د طوفانونو سبب جوړ شي :-

اُپاله د خپل رعيت سره ښه نه وه - او د خلقو د بهبودئ څه خيال ئې نه لاره - يوه ورځ راجه اُپاله په يو خپل وزير باندې غصه شه، ځکه چه هغه د ده د معزوله کيدو سازش کړے وه، او عجيبه دا وشوه چه په هغه ورځ يوه هيبتناکه زلزله راغله چه د هغې په وجه ډير کلي تباه شو خلق ډير ويريده ځکه چه د هغوئ خيال وه چه د زلزلے وجه ضرور د راجه غصه ده، دا خبر په ټول رياست کښې خور شه چه د راجه خبره نه منل يو ډير خطرناک کار دے :-

ويلے شي چه په دغه وخت کښې يو جوګي چه نوم ئې پدماني وه، هغه د دے

وابس ضرور کوهستان ته لاړ شه - او خلقو ته اُو وايه چه دوئ دِ دَ
اِسلام په رښتينی اُصولو باندِ ټينګ شی - ځکه چه مذهب صرف زبانی خدمت
ته نه شی ويلې - که دغه خلق بے خوفه او دَ آرام ژوند غواړی نو دوی دِ ضرور
دَ خداوند تعالیٰ په قوانينو باندِ عمل کوی - بزرګ بيا ما ته يوه همسا را کړه
او څهٔ هدايت ئے را ته وکړهٔ چه زهٔ هغه نه شم ويلې - زه بيا هغه پخپله مريدئ
کښی قبول کړم - او بيا ترے را رخصت شوم ،

" ترنن ورځے پورے زهٔ کوشش کوم، او دَ هغه هدايات دَ کوهستان خلقو ته
بيانوم - او چه ترڅو پورے ما کښے ساه وی نو دا بهٔ خپل فرض ادا کوم "

---

دا قصه دَ اُوشو (سوات کوهستان) ملنګ بابا
کړے ده چه عُمر ئے اَتيا کالو نه دے

چه انسانان تړ ونه هر ساعت په خطره کښې وو، د بد نظمئ او بې قانونئ
په وجه سره به هغه زمانو کښې ځما د سفر په دوران کښې د سوات
او دیر په مینځ کښې سرحد ته نزدے ما ته یوه عجیبه واقعه راپېښه شوے
وه۔ او یو داسے پېره وُنکے وخت چه زه ئې اوس هم یاد کښې راوړم نو
زهٔ د سر نه تر خپو پورے ولړزیږم۔ دا تقریباً د نمر پریوتو نه څه قدرے
وروستو ساعت وهٔ چه زهٔ د غوره ټو تنګے لارے ته ورسیدم چه په قادر
غابنې مشهور دے۔ یو دم د نامعلوم طرف نه یوه زنانه چه ډیر اوګده
ویخته ئې وهٔ۔ او بې شانه لوڅ تی ئې وو۔ او د باز د پنجو پشان لوئ لوئ
نوکونه ئې وو، او ځانې راټوپ که۔ زه حق حیران پاتے شوم ساه مې نه شوه
آغستے۔ ځما لاس او خپې شل غوندې شو۔ او دے زنانه په ډیر زور سره په خپلو
غټو نوکو ځما سینه وهل شروع کړهٔ، هره پېره چه به زهٔ هغې وهلم نو ما به
محسوسوله چه ګنې د وسپنې په یو بنډو سکې مې وهي۔ زهٔ د درد نه ذرّے ذرّے
کیدم، ما دا محسوس کوله چه ګنې ځما پښتئ خیمه کیدلے۔ یا خدایه ما او ویل" زهٔ
ستا یو عاجز او خوار مخلوق یم۔ ما لا دا الفاظ نه وو ختم کړی چه ما هم هغه
بزرګ اوُ لید۔ کوم چه ما په خوب کښې لیدلے وهٔ۔

"هغه ما ته اووے۔ مه یریږه۔ خدائے تعالیٰ پاک ستا ملګرے دے" چه ما سترګے
وسپړدے نو زنانه غائبه شوے وه۔ ما اوس د خپل زړونه د پاره زغاسته
شروع کړهٔ۔ ځما خیال نه دے چه زهٔ به ګنې چرته بیا د هغې په شان وزغاستے
شم۔ زهٔ زغاستم او زغاستم۔ ما ذر محسوس کړه چه ځما خپې خو نه دیَ۔ بلکه زهٔ
څه د کراماتو په طاقت سره بوولے کیږم۔ زه هیڅ سترے ستومانه نه وم۔ زهٔ
بے تکلیفه او به مزه مخکښې وړاندې تلم حتیٰ چه د بزرګ څنګ ته اورسیدم، کوم وخت
چه د هغه څنګ ته لارم نو هغه ما سره سینه په سینه شهٔ۔ او وئې ویل" پخیر
راغلے ته اوس محفوظ ئې۔ زهٔ ئې پناهئ ته کړم، ډوډئ ئې را ته راکړه۔ او زهٔ
بیا زر اوُده شوم۔ دا ځما د زړونه خوګ خوب وهٔ۔ زهٔ د ماشوم په شان اوُده شوم
سحر زهٔ سبهٔ دمه وم، او بزرګ ته حاضر شوم۔ هغه اوُوے "چه ځما دا غرض دے
چه ته یو ډیر ضروری کار اوُکړے" ما اوُوے چه زهٔ به ډیر خوشحاله شم که ما ته
هدایت وکړے شی" بزرګ ځما په اوګو خپل لاس نه کیخودل او وئې ویل" ته

# پنځلسمه قِصه

**یوه سهمناکه ښځه**

د اوشو نوے کلی یو ملنګ بیان کړے دے چه څه وخت کښې چه زهٔ د دیر[۳۰]شو کالو ځوان وم. نو ما به د یو بزرګ متعلق اوریدل چه هغه د ګوان نوے کلی د ملیزو علاقه (دیر) کښې اوسیدهٔ - ځما د کلی اوشو (ریاستِ سوات کوهستان) خلق به ګوان کلی ته تلل چه د دغه بزرګ دعا، حاصله کړی - د ګوان کلی ته به لار کښې یوه ښځه شاشه بلا د سفر کونکو د ویرے موجب ګرځیدلے وه، او کلی والو به د دے متعلق خبرے کولے، ځما هم ډیر زړه کیدهٔ. چه ما د دے بزرګ دعا، حاصله کړے. ولے څه کالو نه تیر شو -

یوه شپه ما ته یو سړی چه سپینے جامے یے آغوستے وے خوب کښې ښکاره شهٔ او هغه ما ته اووے" چه ځما ستا سره کار دے - او ته ما ضرور په دیر کښې د ګوان په کلی کښې اووینه" او د سفر په لار کښې د هیڅ بد طاقت نه مه ویریږه.

سحر خپلے مور ته ما داخوب اووے - لیکن هغے د شاشه بلا د ویرے نه ما ته اووے چه په دے سفر مه ځه -

څه هفتے بعد د غوږے نه وروستو کوم وخت چه زه پخپل کلی اوشو کښې د غوز د یوے ونے د لاندے پروت وم، نو ما یو خوب اولیدهٔ، او هم دغه بزرګ ما ته اووے چه ځوانه تا ولے ځما هدایت په ځائے نه کهٔ - زهٔ چه راویخ شوم، نو نیغ خپلے مور ته لاړم- او هغے ته مِ اووے چه ستا نه دعا، غواړم- اَو ښځه اِراده مِ کړے ده چه ګوان (دیر) ته لاړ شم"

"هغے ځما په اوګو وژړل او په ډیره ناخوالے سره یے ځما مدعا، او منله او بیا ځما د سفر د پاره هغے ما ته درے خیزونه راکړهٔ - څه لږه ډوډئ (کاکونه) یوه چاړهٔ (پشقوزه) او یو تعویذ -

ما به خپلو خپو به غوښیزد او سختو لارو کښې خپل سفر شروع کهٔ، کوموکښې

خیالات دَ دهٔ په مغز د کښې ټوله شپه ګرځیدل۔ دغه دهٔ ته دَ خپل عُمر دَ ټولو نه لویه شپه ښکاریده۔ په سحر له دَهٔ خپل وزیر بهیمه را طلب کهٔ۔ او دَ ملنګ ټوله معامله ئې ورته بیان کړه۔ او دے باره کښې ئې ترے مشوره طلب کړه وزیر او ویل "اے راجه زهٔ دا مشوره درکوم چه تهٔ دا ملنګ را اوغواړه۔ او معلومه که چه دا څوک دے"۔ بس ملنګ ئې دَ راجه حضور ته راوستهٔ۔ او چه راجه او وزیر ملنګ نه تپوس نه کول۔ نو د یکښې وزیر یو خال دَ ملنګ په وچولی کښې اُولیدهٔ۔ او راجه ته ئې خپل معلومات په پټه او ویل۔ دَ راجه ښځ پوهه وکه ځکه چه دهٔ ته خپل خوب را یاد شهٔ۔ دهٔ دَ ملنګ نه تپوس اُوکهٔ چه اے میلمه تهٔ څوک ئې او دَ کوم ځائے ئې۔

ملنګ اُو وے چه زهٔ دَ کوز سوات دَ راجه ځوے یم۔ او ځما نوم بختمند دے۔ ما ته دا معلومه شوے ده چه تا چیرے شهزا دګان ردکړی دی۔ کوم چه ستا لور واده کول غوختل۔ نو ما خپل ځان په دے خیال کښې ملنګ کهٔ چه دَ هغې زړهٔ وګټم۔

راجه په خوشحالئ خندا دَ ملنګ سره په مینه سینه په سینه شهٔ۔ او ورته ئې او وے "چه ته هم هغه ئې چه کوم دَ پاره ما دَ چیرو کالو نو را سے تکل کاوهٔ" راجه دهٔ ته بیا خپل خوب او وے۔ او حُکم ئې وکهٔ چه دَ وادهٔ انتظام دِ وکړے شي۔ او واده په چیر شان و شوکت سره و شهٔ۔

دَ دے نه ورستو شهزاده بختمند دَ نوے وادهٔ شوے شهزادګئ خورشید بانو سره په یو لوئ او رنګین جلوس کښې خپل کور ته لاړ شهٔ۔ دا یوه چیره لویه موقعه وه۔ ځکه چه دَ دے خیختئ په وجه بر او کوز سوات دَ یو زړهٔ د وه وجود شو۔

ویلے شي چه ورستو بختمند چه دَ چیر عُمر او نیم شلے کالو نو پورے ژوندے وهٔ۔ نو دَ بر او کوز سوات دوارو راجه شوے وهٔ۔

دا قصه بیرم خان دَ زاړه کلي سوات بیان کړے ده چه دَ سلو کالو په عُمر کښې وفات شوے دے

# څوارلسمه قصّه [١٤]

### یو شهزاده په بل لباس کښې

هوښیاران خلق وائي چې یو ځل د پرسوات یو راجه وهٔ چې نوم یې نیم جان وهٔ. د دهٔ یوه ښکلې لور وه چې نوم یې خورشید بانو وهٔ. د هغې شهرت لرے لرے علاقو ته خور شوے وهٔ. او ډېرو شهزادګانو د هغې سره واده غوښتهٔ. لیکن راجه یو خوب کښې لیدلی وو. چې دا دې داسې شهزاده ته واده کړي چې د هغه په وجود کښې خال وي. او که دهٔ دا وصیت او نه مانهٔ، نو د دهٔ نه به حکومت لاړ شي په صباله دهٔ دا خواب خپل وزیر چې نوم یې بیمه وهٔ هغه ته یې اُو وے :-

ډیر اُمیدواران راغلي وو. بعض ډیر زیات طاقتور او بعضے بے حده هوښیار وو او ښکلي وو. لیکن راجه دا ټول رد کړل، هغه داسې یو تن کوټ چې د هغه په وجود کښې خال دی :-

دے کښې ډیر کالو نه تیر شو. لیکن راجه د خپلې لور د پاره د یو موزون جوړه په موندو کښې ناکامیاب پاتے شهٔ -

یوه ورځ کله چې راجه د خپلې تمبکۍ نه بهر کتل نو دهٔ یو ملنګ ولیدهٔ چې خیرے ډیرے جاے یې وے، د فقیرانو کچکول ورسره وهٔ، او هغه تمبکۍ ته یې کتل، د کوم ځاے نه چه به د ده ښکلې لور خورشید بانو کیناسته. خیر راجه دا خبره دومره نظر کښې رانه وسته. څو ورځې ورستو دهٔ بیا دا ملنګ ولیدهٔ چې د دهٔ د لور تمبکۍ ته یې پورته کاتهٔ. دے ځل د دے غضب کښې شهٔ، او د خپلې لور نه یې تپوس وکړهٔ چه رنړا دے ذکی چه دا څه خبره ده، هغې جواب ورکه" چه اے پلاره دا سړے یو ملنګ دے، او که ته د دهٔ کیناستهٔ دلته نه غواړے نو حکم وکړه چه دے لرے کړے شي :-

راجه خپلو نوکرانو ته حکم وُکهٔ چه ملنګ دِ لرے کړے شي. لیکن ملنګ په ضد شهٔ، او وُ یې ویل چه دے بلکه مرګ خوښه وی. راجه به ډیر مشکل کښې پریوت او شپه یې ډیرے آرامه تیره کړه. هغه د خپل ځان سره فکر کاوهٔ. که زهٔ چرے ملنګ مړ کړم. نو ځما ډیره بدنامي به اُوشي. ځما رعیت کښې به زهٔ بے عزته شم. خلقو ته به د محبت دا معامله معلومه شي؟ داسې قسمه

لاس ښُنے ته ورکړی. لیکن په دے شرط کړے دَے دَ بیوُ نوے ځائے په خوا کښے په یوه ورځ کښے یوه داسے واله وَکَنی چه دَ دا نو وړو کولو دَرے جرندے گرځولے شی :-

ښُنے ملک په ډیرے خوشحالئ سره دا شرط منظور کهٔ. او دَ دے کار دَ پاره بیوُ ته ورسید. گلناز دَ خپل پلار په ملګرتیا کښے هم دغه ځائے ته راغله چه پخپله دا سخت امتحان اوُوینی. قصه کښے بیانیږی چه دغه ځائے گلناز خپل پړونے دَ ولے او دَ جرندے دَ نقشے خوړو په غرض خور که. ښُنے ملک بلکل هم وخت ضائع نه کهٔ. دَے دَ خپل بازو په طاقت سره هم په دغه ورځ کښے دَ وَلے کنلو او دَ جرندو جوړه ولو کښے دَ شرط مطابق کامیاب شهٔ -

دَ دغے نه ورستو ښُنے ملک دَ گلناز او دَ هغے دَ پلار په ملګرتیا کښے واپس کالام ته لاړ شهٔ. او هلته ئے په خوشحالئ سره واده وشهٔ. ډیر زر ورستو ملک او گلناز بحرین ته راغلهٔ. او خوشحاله دَ جوړے ژوند ئے تیره وهٔ. بیا دَ دوئ بچی اوُشو. او دَ دوئ اولاد تر دے وخته پورے په بحرین کښے اوُسی. او هغوئ ته منک وائی :-

واله او جرندے هم ترننه ورځے پورے موجود دی، چه دا دَ دے دوهٔ عاشقانو په یاد کښے یو ژوندے یادګار دے. او کوم خلق چه غواړی نو اوُس هم دوئ دا دَ بیوُ په خوا کښے لیدلے شی :-

---

دا قصه اندرکل دَ بحرین سوات بیان کړے ده
دَ دهٔ عُمر خلو یښت کالو نه دے

# دیارلسمه قصه ^١٣

## محبت ته ځم بند شي

په بحرین (سوات کوهستان) کښې ډیر ښځوا یو زبردست پهلوان او سیده، د هغه نوم سُنے مَلِک وهٔ - ملک یو غیر معمولی طاقتور د ګنګ چیړ ښکلے ځوان وهٔ، د ټولے علاقې جینکو به د دهٔ وصف کاوهٔ، او د هرې یوې دا ارمان وهٔ چه ده سره واده شي - لیکن معلومیده چه سُنے مَلِک د ښځو سره څهٔ محبت نه لاره - بلکه د ښکلے نه ښکلے ښځې هم دَے نه شوهٔ راغب کولے - د ګردو نواح د علاقو سردارانو دهٔ ته خپلے لوڼړه ورکولے لیکن دهٔ به انکار کاوهٔ -

ویلے کیږي چه به کالام کښې یوه جینۍ وه چه ټولو خلقو - بلکه د زمانے لویو شاعرانو به په خپلو شعرونو کښې د هغې د ښائست وصف کاوهٔ - د هغې نوم ګلناز وهٔ ډیر سرداران د هغې د وادهٔ په غرض کښې وو - لیکن هغې به انکار کاوهٔ - خلق حیران وو چه څوک به هغه قسمت والا وي - چه د دے سره به واده نصیب شي - ګلناز بچپله هم حیرانه وه چه ګوَرے وادهٔ به چرته او شي -

یوه ورځ سُنے مَلِک چرته کالام ته تلے وهٔ - او هلته به ناځاپي د ګلناز سره ليدهٔ وَشو، او هم د هغې ورځې نه پس د دهٔ خیالات هغې طرف ته مائله شو - معلومیده چه سنے ملک به اکثر اوقات د هغې په خیالاتو کښې وهٔ - خو اظهار ئې نه کول - خو د خیالاتو مرکز ئې ټول ګلناز وه - دهٔ ډیر کوشش اوکړهٔ - او ډیر خلق ئې جرګه کړل چه د ګلناز پلار راضي کړي - او د وادهٔ اجازت ورله ورکړي - لیکن په دے لار کښې ډیر مشکلات حائل وو -

سُنے مَلِک د یو داسے قبیلے سرے وهٔ چه د هغوی مشرانو د ګلناز نیکه وژلے وهٔ دوستانو سُنے ملک ته اُووے چه دا خیال هیر د پریږدی - او ګلناز هیره کړی - لیکن هغه اُووے چه زهٔ د ګلناز نه بغیر ژوندے نه شم پاتے کیدے - او صرف مرګ ما ته آرام راکولے شي -

خیر بیا هم د ډیرو کوششونو ورستو د ګلناز پلار راضي شهٔ - چه هغه د خپلے لور

# ۱۲
# دولسمه قصّه

## مړ کول بکار دي که نه

وائي چه يو شپه د سوات مشهور بزرګ ګناجير بابا د اودا سه په غرض د خپل کلي ګناجير نه بهر نزدې خوړ ته اووت. په لاره کښې ده يو اوګد تور مار اوليده. بابا سمدستي دغه مار په سر په خپله همسا او واهه مار مړ شو. او بابا خوړ طرف ته لاړ شو. دے واپسۍ کښې حيران شو چه لاره کښې ئې د خلقو يو غونډه اوليده. چه هغوئ سپينې جامې آغوستې وې د مار نه چاپېره ناست وو. او هر يو ډير خفه معلوميدو۔

په هغوئ کښې يو تن د بزرګ نه تپوس وکړو. اے بابا. آيا دا ښه ده چه څوک د مړ کړے شي؟ بابا خفه شو او وائيګېړله چه دا خلق چه دلته دو مره بے وخته دي نو دا پېريان دي. او دا مار غالبًا په دوئ کښې يو وو۔

بابا صاحب يو ساعت ساکته شو. او د ډېر فکر کولو نه د ورستو ئې او ويل: دا بلکل ناروا دي چه څوک بل سړے مړ کړي. ليکن که څوک ځان په بله خطره ناکه کو نه کړي نو بيا دا سے روا دي؛

بابا دا الفاظ او ويل او بيا روان شو. دے چه يو څو قدمونه مخکښې لاړ شو نو په بېرته ئې وکتل. ليکن د خلقو دا غونډه ورکه شوے وه۔

---

دا قصه مياں محل د منګوړ بيان کړے ده چه عمر ئې (۴۵) پنځه څلوېښت کالو نه دے۔

خته شه - او په شائې اُو واهه - دے نه پس جادوګر شامد ارته اووے - ما اوس به روح ستا د بدن نه لوے کړ - او ته و پړا ندے محفوظ تلے شې - لیکن شامد اد تېوس اوکړه - دَ دے عجیبه ځناورو مطلب څه دے - جادوګر - جادوګر جواب کښې اُووے - دا ځناور ستا بڼان دَ یو انسان مختلف شکلونه دی - او هغه ته دَ یوے جادوګرے دَ ناراضه کولو په وجه دا سزا ورکړے شوے ده :-

---

[دا قِصه دَ چیل کلی (سوات) ناصر ملک بیان کړے ده چه دَ اوداو کالو په عمر کښې وفات شوے]

---

# يولسمه قصه

## دَ يو جادوګر غُصه

ويلې شوي دي چې ډېر کالو نه مخکښې په برسوات کښې په يو کلي کښې يو سوداګر اُوسېده۔ دَ هغه نوم شامدار ده۔ هغه به دَ تجارت په غرض لرو لرو کلوته سفر کاوه۔ هغه دَ خپل وخت يو مشهور سوداګر ده۔ هغه دَ سوات او دَ کوهستان اکثر کلوته تلے وه۔ کومو ته چې دَ ده دَ کلي نور خلق به په سفر کولو يرېدل دَ ده دَ کلي خلقو ته مشرانو ويلي وو چې کوم خلق چې دَ خپل کلي نه ډېر بهر ته ځي۔ نو هغوئ ته لار کښې بد روح نقصان رسوي۔ ليکن شامدار هيڅرې هم دَ دے مشرانو نصيحت نه آورېده۔

يوه پېره داسے وشوه چې په يوه شپه غزېږه لار دَ يو سفر په دوران کښې ده ځان پسے ورستو دَ خپو دَ قدمو نو خپ شان آواز واورېده ده چې ورستو وکاته نو يو بانکې ئې اُوليده چې ده پسے راته۔ دے حق حيران شه۔ ليکن مخبله لار مخکښې ته۔ څه فاصله هغه خوا ته ده چې ورستو وکتل۔ نو دے ځل ئې طوطي ځان پسے وليده۔

شامدار څه قدرے پرېشانه شه۔ ځکه چې ده ته ياد شو چې دَ ده دَ کلي مشرانو ويلي وه څوک چې دَ خپل کور نه ډېر لرے ځي۔ نو هغوئ ته خطرے په لار کښې پېښېږي۔ شامدار خپل تله تېز کړل۔ او دا ځل چې ده ورستو وکتل نو يو ګيدړ ئې اُوليده۔ خو ده خپل سفر جاري او ساته۔ کله به زغاسته۔ او کله به لږ په دمه۔ دے عاجز پاتے شه۔ او پښې ئې ستړې شوے۔ دَ ده زړه دَ سينې نه دنګل شروع کړل۔ دَ خپل خوږ ژوند دَ خاطره دے په زغاستو باندې وتکېده په دے کښې دے يو ځائے ته اورسېده چې هلته دَ ده دَ سکون باعث دَ يو جادوګر باندې پېښ شه۔ شامدار چې دا ټول څه ليدلي وه هغه ئې ورته بيان کړه۔ جادوګر څه دَ جادو الفاظ ولوستل او دَ شامدار په مخ باندې ئې اُوپوکل۔ او بيائې يو سوټې راواغسته دَ ترے کوڅے ئې دَ ده نه چاپېره کړے۔ او بيائې شامدار ته او وے چې

چه د قبر نه خټې به قبرستان کښې نوره هم لږ چپه چپا وه. لیکن دے قبر اور نو که. دا یو نا قواره قبر وه او د چا قبر دا کیدے شي د ے حیران وو دے سوچ کښې وو چه دا څوک ګنه یو لوی ګنهګار وه.

د ده اس وړاندے نز دے او نور نز دے روان وه. او د اور شغلې نور هم تیزے راوتے، چه کوم وخت کښې دے بالکل قبر ته نز دے ورا غی نو د اس نه کوز شه او خاموشه د قبر خوا ته نز دے شه او یوه خطرناکه نظاره ئې ولیده. د غلته یوه ښځه چه خوارهٔ وراره اوګنده ویخته ئې وو د یو لوخې سره ناسته وه او په د غ کښې یو لکوټے ما شوم پخیده. ده به هغې آواز وکه چه د قبر نه راووزه لیکن هغې انکار وکه. بیا ده هغه د ویختو نه اونیوه. او د قبر نه ئې بهر راوخکله کوم وخت چه د غه ښځې د جان فشان چمک دا دے او تاثیرناکے سترګے ولیدې نو د ئې نه وربیده او وئې ویل: که ما سره امن وی نو زه به تا ته دبنتیا اووا یم او خبره دا ده چه زه د جادوګرئ کسب کوم. زه د ماشوما نو شوروا تیاره وم او هغه ښځو له ئې ورکوم چه د هغوی تعلقات د خپلو خاوندا نو سره ښه نه وی کوم وخت چه خاوند دا شوروا وسکی نو د هغه د خپلې ښځې سره مینه محبت پیدا شي.

جان فشان خان اوویل: اے زنانه ما به ته تباه کړې وے که تا ما ته ربنتیا نه وے ویلے. لیکن یاد لره چه ته غته ګنهګاره ئې. او ته به په بل جهان کښې هم په دا سے شغلو کښې ونغښتې شې. هم د غه شغلې چه تا پکښې تراوسه پورے بلهاے ګناه ماشومان باخه کړی دی. تا ته به یقیناً د ے سزا ملاؤ شي. لیکن د اوس نه ورستو زه درا نه غواړم چه د دا سے ظالمانه او بے شرمه کار د نو په باره کښې څه هم واورم:

جان فشان خان په اس سور شه. او خپل کلی ته وا پس راغے. او د قبر د اور په باره کښې بیا چا هیڅ هم وانه وریدل:-

—...—...—...—...—

{دا قصه باجوړی د ګا شکوړ کلی (سوات) بیان کړے ده
چه د اووه شلو کالو په عمر کښې وفات شوے دے}

# لسمه قصه

## دَ اوُر قبر

څه کالونه مخکښې یو سړے وَهٔ چه نوم ئې جان فشان خان وَهٔ۔ هغه یو ښکلے جسامت او تاثیر ناکو سترګو والا یو بهادر سړے وَهٔ۔ داسې سترګے ئې وے چه دَ بهادرنه بهادر سردار به هم دَ هغه په مخکښې عاجز وَهٔ۔ هغه دَ سوات دَ سین نه اوُړته دَ نیک پي خیلو دَ علاقے دَ یو څو کلو سردار وَهٔ۔

یوه ورځ هغه ته خبر وُشهٔ چه دَ کلی دَ خوا دَ مقبرے دَ یو قبر نه اُور خیژی دَ بهادرنه بهادر سردار هم دا زړهٔ نه شهٔ کولے چه لاړ شی او دَ دے قبر او دَ اوُر پته اُولګوی۔ شپه په شپه به زوره وَرے غرغندے دَ دے قبر نه ختے او دَ خوانانو او دَ بډهاګانو په زړونو کښې ئې سخته یَره پریښے وه:۔

جان فشان خان ډیر په خاموشئ سره دا خبره واوریده۔ او یو خپل وفادار نوکر چه نوم ئې هرمز وهٔ هغه ته ئې اُووئیل" نن شپه به زهٔ یکیواځې څُم چه وګورم چه دا ټول څه دی" هرمز ډیر فکرمند شهٔ او کلک شهٔ چه دَ خپل نایک سره ملګرے شی۔ لیکن جان فشان خان انکار اوکه۔ او وئې ویل" چه هرمزه یو بهادر سړے په خپل خان یقین کولے شی۔ زهٔ اعتماد کوم چه دَ قبر کښې هر څه طاقت چه دے۔ نو زهٔ به ئې ختم کړم۔ شپه نزدے راغله۔ او دَ هرمز نوکر پریشانی او خفګان نور هم زیاتیدل، هغه ته دا معلومه وه۔ چه جان فشان خان یو بهادر سړے وهٔ۔ لیکن هغه دا محسوس کول چه دَ سوات علاقه په دغه زمانه کښې دَ خطرونه ډکه وه۔ او په دے وجه به قسمونو خیالات دَ هغه په مغزو کښې ګرځیدل:۔

بلکل قلاره شومه کښې جان فشان خان په خپل آس باندې سور شهٔ، او نیغ مقبرے طرف ته روان شهٔ۔ چه ئې دَ ډیرے مُدے راسې دَ نیک پي خیلو ټوله آبادی په یره کښې غورزه ولے وه۔ چه کوم وخت دَے نزدے شهٔ۔ نو دهٔ غټې لمبې ولیدے

# نهمه قصه

## دَ لاړے پيرے

ډير کالونه مخکښې دَ بريکوټ (سوات) نزدے لار کښې يو پيرے وهٔ، هغه به دَ لارے تلونکی يرَول. هر سړے دَ هغه نه يريدهٔ او سخت تړے يريدهٔ. په پښتنو کښې دَ بهادر نه بهادر سړے تړے هم يريدهٔ. ځکه چه دا يقين کيدهٔ چه پيری باندِ ګولئ اثر نه کوی :-

يوه ورځ آتّم خان دَ کالا خيل بونير (سوات) يو سردار دَ خه ميلمستيا نه واپس کور ته تلهٔ. او ناڅاپه ئے دَ لارے دا پيرے په نظر شهٔ. دَ دهٔ کمرکس ملګری په تښتيدو شو. ليکن خان نهٔ. بلکه دے مخکښې شهٔ چه دَ دے پيری سره مقابله اوکړی.
کوم وخت چه دے نزدے شهٔ. نو دهٔ ته دا معلومه شوه چه دا پيرے تقريبًا لس فټه دنګ دے. دے دَ غصے نه شين شهٔ او وَئے ويل "چه ته دا خپل ناکاره کارونه وَ نه پريږدے زهٔ به تا او خورم" په غصه کښې پيری چغه کړه.

او سمدستی خان دَ پيری سره په ربړه شهٔ او ډير حيران پاتے شهٔ چه دا پيرے خو يو اوګل سړے دے. چه په خپلو اوږو ئے يو هلک کينولے وهٔ. او دَ سر نه دَ خپو پورے ئے ځانله دَ ټوکی په ټکړو کښې نغښتی وهٔ. او خلق ئے په درد غه دهوکه کاوهٔ چه دا يو اوګل پيرے دے. حالانکه دا پيرے نه وهٔ. بلکه دوه بنيادم وو. چه دَ ډيرے مُدے راسے به ئے مخلوقات يرَول. او هم به ئے لوټل. دَ هوښيار نه هوښيار خلق به ئے هم يرَول ليکن دا ګيله آتّم خان دَ خپل وخت يو بهادر سړی را برسيره کړه.

دا قصه دَ آشاړی ملا (سوات) بيان
کړے ده چه عمر ئے پنځه اويا کالونه دے

# ا تمّهٔ قصّه

## دَ يرے فلسفه

دَ مهردِل خان دَ شاه ډهېرئ (سوات) يوه هوښياره مور وه هغې دا غوښتل چې څما ځوي دِ پرنډو ړنګے نه وي- هغې به هميشه ده ته داسې قصې بيانولې چې دَ هغې به وجه دَے بهادر شي-

مهردِل خان يوه ورځ دَ خپلې مور نه تپوس اوکه چې به دے ښتيا دِ څه دَ پيريانو نه صرف يريدم؟ نه-نه- ځو يه پيريان ډير فائده مند خاق دے- که ته ښه قسمت والا يې او يو بانډِ هم وګکيدلے- نو بيا هرڅه سره چې ته لږيږې هغه به سره ذر کيږي"

دَ دغې نه پس مهردل خان به هره شپه مقبرے ته تله دَ پيريانو به تکل پسې او هغه په حقيقت کښې هغه ټول ځايونه او کتل چې دَ کومو په کتو کښې به نور خلق يريدل- ټول عُمر هغه دَ داسې خلقو به غور کښې وه- چې نور کلي والا ترے يريدل- ليکن يو هم پيرے ورته مِلاؤ نه شه- او هغه هيچرے سره ذره نه کتل- صرف يره يې ورکه شوه-

{ دا قِصه دَ کښې والا پير بيان کړے ده- دے دَ فتحپور سوات دے او عمر يې اوّيا کالو نه دے }

# اووم قصه

ملامته پیرے

څو کاله مخکښې یو سړے چه نوم ئې سرفرازخان وهٔ او دَ جامبیل کلي اوسیدونکے وهٔ. یو ماښام یک یواځې دَ دَ منګورې نه خپل کلي ته روان وهٔ. دَ دٔ چه دَ دنګرام دَ کلي نه واوښته، نو تیاره شوه. او نوره هم تیاره کیده. او چه کوم وخت کوکارئ نو ځے کلي ته نزدے شه. نو سرفرازخان دَ ګنړو دَ نو په قبرستان کښې یو سړے ولیدهٔ چه بے شانه اوګد وهٔ. دَ دهٔ سترګے غټې وے او دَ سکروټې په شان سرې وې، او اوګدهٔ ویښته ئې ترخپو زنګیدل. دَ پیری غاښونه دَ واورو په شان سپین وو، او دوه غوږونه دَ غوږے نه بهر وتی وو. او ځنې تکتور وهٔ. یو زه ئې په خوله لړیدل، او ډیر دَ تعجب او دَ یرے دَ دهٔ لغړ وجود وهٔ، چه دَ ګنړو تورو ویښتو نه ډک یک وو داغوله دَ هر یو سړی دَ پاره دَ یرے یوه ننداره وه.

لیکن سرفرازخان یو بهادر سړے وهٔ، او دَ دے پیری پرے هیڅ اثر ونه شو، بلکه په یو بهادرانه انداز کښې دهٔ پیری ته اُو ویل "چه ستا دا شکل و شباهت خو ډیر خوفناک دی، او تاله هیڅ شرم نه درځی"

دَ دے خبرے دَ اورید و سره پیرے په یو تورلوګی کښې بدل شهٔ، او په نزئ هوا کښې ورک شهٔ. معلومیږی چه دا پیرے دَ بهادر سرفرازخان دَ نرتوب او دَ بهادرئ دَ ډکو خبرو نه ډیر شرمنده شهٔ.

دا قصه اسلم خان دَ مکان باغ بیان کړے ده چه هغه دَ جامبیل دَ سرفرازخان نه اوریدلے ده، چه عمر ئې ۶۰ شپیته کالو نه دے

خوله کښې ډوب وُم - ما کوشش کاوهٔ چې څه دم دُعاء اُوَوایم - لیکن خُما ژبه تړلې وه - او زهٔ پتول بُګنیدم؟"

دے کښې لږ ساعت پس ما بیا دَ طوطی خطرناک آواز واوریدهٔ هغهٔ دَ حُجرے په دروازه کښې ولاړ وهٔ - او بیا ئې هم خُما متعلق تپوس کاوهٔ - او هغهٔ خواب الفاظ ئې ژَوَرَوَل "چې زهٔ تا خورم - خورم ئې؟"

دَ حُجرے خلق هم ویریدل - دوی کښې یو سړے بیا اُوچت شهٔ او طوطی ئې راټینګ کړهٔ - او په زور زور ئې په کټ کښې څملاوهٔ - دے سړی دَ قرآن پاک آیتونه مُبارک لوستل شروع کړهٔ - چې دا طوطی دَ پیریانو دَ اثر نه خلاص شی۔

ټول خلق په حُجره کښې ډیرے نه بلکل حیرانګان وهٔ - دَ دوی مخونه زیړه تختیدلی وهٔ - دوی نه پته نه وه چې مخکښې به څه کیږی - لیکن یوه ډیره نه منونکے کاروشهٔ - بلکل چې یقین ئې نا خلی - بلکه دَ رحمت الله (قصه بیانونکی) هم هېڅ و په خیال کښې نه راتله نه - دا څو هېڅوک دَ هغه وهم وګمان کښې نه وهٔ - دَ یوے داسے واقعې په یوه عجیبه طریقه سره انجام کیدل - طوطی هغه شان دغلته پروت وهٔ - او تر او سه تکه بُت سنکاریدهٔ - دَ هغه دَ بدن یوه حِصه هم نه رپیدهٔ - دَ هغه دَ سترګو یوه بانړهٔ هم نه رپیدهٔ - څه غمناک انجام - طوطی نور ژوندے نه وهٔ؟

—...—...—...—...—

ﮩ{ دا قصه رحمت الله استاد شاعر بیان کړے ده چې عُمر ئې پنځهٔ شپیته (۶۵) کالو نه دے - دَ دهٔ پیدائښت دَ ګوګدره نوے کلی دے - لیکن اوس په مکان باغ کښې منګوره ته نزدے اوسیږی }ﮩ

خوشنویس فیضان سوات

ټنډی کو له. ځما دده خپه وے. لیکن ما وے چه نو رے خپه م جړته او ځغستے لیکن ما دا ایسے محسوس کوله چه ځما خپے نه خوځی. لکه چه یو دردن بار پرے پروت وی. بیا هم ما کوشش کاوه چه وړاندے لاړ شم. او د طوطی نه بچ شم لیکن د بچ کیدو داکوشش صرف د لږ ساعت خبره وه. او س ز د بیا بلکل ناڅاپه ویریدم. سخت ویریدم. ځکه م لیدهٔ چه طوطی بیا ځما طرف ته را روان وهٔ. دا پیره خو دا ایسے ښکاریدهٔ لکه مرے چه را روان وی "د یرخطرناک ساعت دا ایسے معلومیده لکه چه د دهٔ د سترګو. غوږو نو. پوزے او خولے نه اوبه را اوځی :-

رحمت الله به دے وخت کښے چه قصه ئے بیا نوله نو یو اوګد ساه ئے واغست ځکه چه د قصے دے خیال دے او س هم پرا وهٔ. دهٔ قصه کښے ځغلنے اووے "هاں طوطی لکه د تندر په شان ځما طرف ته را زغاختهٔ. ما محسوس کوله چه ګنے زمکه ځما د خپو نه تختی. په هر یو قدم زمکه رښیده طوطی نزدے کیدهٔ نور هم نزدے. او چغه ئے کړه. "زهٔ راغلے یم تا خورم. او خورم دے" دے حالا تو کښے زهٔ د یرے نه ړند غوندے شوم. او چه د یرے د چغے په وخلوم. ما کتل چه طوطی ځما نه ګس آړخ ته د مقبرے په طرف چه د غونډئ په لمنه کښے وه روان شهٔ. په دے پیره خو ما کوشش کاوهٔ چه نزدے کای قبر ته ورسم او په ډیر مشکل سره زه کنهٔ ته را اورسیدم. او ښکاریده چه ګنے که خیرئ د خطرے نه بهر شوم. لیکن دا ایسے نه وه. نه وه. لا ترا او سه نه وْ. طوطی بیا ځما طرف ته لکه د نو دے او خطرناکے ودیځ پشان را روان وهٔ، هغه او نزدے کیدهٔ چه ما ته نزدے راغے نو چغه ئے کړه. زهٔ راغلے یم. راغلم. زهٔ راغلے یم چه تا اوخوردم. خوردم. خوردم. تا. تا." زه بیا ریږیدم او ټول ګړ بیدم. ځما زړه بیا د تښتی د رګونو سره د ټکل. ما خیال ډکه چه انجام م خراب دے."

طوطی بیا زه پریخودم او سین طرف ته ورزغاخته. ما او س فیصله اوکړه چه آخیری کوشش اوکړم او خپل ځوند بچ کړم. او په ډیر زحمت سره د ارجمند نوے سړی حجرے ته قبر ته اورسیدم. دا د جی موسم وهٔ. او ټول خلق د اوړنه جا پیره ناست وهٔ. لیکن ما د هیچا سره هم خبره ونه کړه. زهٔ صرف یو کټ کښے پریوتم. او د غلته به تولا یانو کښے وننوتم. زهٔ د خپونه د سره پورے به

په دې کښې طوطي ته دوه سړي د غونډۍ نه لږ بېرته ولاړ ښکاره
شو. دوی طوطي منع کړه چه نور مخکښې نه راځې او وې ویل "تاسو یو
څوک یئ. او مونږ بل څوک یو"

ولې ساده طوطي د هغوی په دې خبره بانډې بلکل پوهه نه شه. او بیا یې
تپوس وکړه "تاسو دوه مره ناوخته دلته څه کوئ؟" طوطي لا دا خبره خلاصه
کړې نه وه. چه د سړو د دې غونډۍ نه یو تن اوچت شه. او دې دوه ؤ څوکیدارانو
ته یې وکتل او په ډېر قهر سره یې اوویل "د دې سړي ژوند ختم کړئ؟"

دا د رحمت الله (چا چه دا قصه بیان کړې ده) د پاره یو ډېر خطرناک ساعت
وه چه هغه د څه وخت راسې دا د پرې ځکه تماشه لیده. هغه وېلي دي "چه
د سترګې په رپ کښې څما د مخې نه د سړو غونډه غائب شوه. او زه ورېدم
ما ته پته نه لګیده چه زه خوب وینم او که ویښ یم. څما ټول وجود د یرې
نه ونختې. څما زړه د تښتي سره درزیده. او خیال م شه چه کښې دا شلېږي
شونډې م وچې وې. او ژبه م کانګوړه شوې وه. ځکه م وېسته ولې مجال م
نه وه. ټول وجود م د خوګو نه لوند شوې وه." رحمت الله مخکښې اووې "چه لږ په
خود شوم. نو ومې لیده چه طوطي څما طرف ته راځغاسته. ژبې یې د خولې نه باهر
زنګیده او په زن بانډې یې ته وه او تکه توره وه. د هغه سترګې د ډ ځوټه
راوتلي وې. څما خیال دا شه چه کښې د سترغلو نه راوځي. طوطي ما ته شه را نږدې
کیده او ګرځه وه جسه یې به هر قدم د نورو خطرو د تفصیل آئینه داره وه
هغه نور هم نږدې راغې او د هغه د هر قدم سره زما غوږي زنګ زنګ کېدې. او څما
زړه د نکل هم زیاتیده. زه پریدم. طوطي لکه د واوره د ګټ په شان را روان
وه. د یو خطرناک او بې پروا د واوره د ګټ په شان چه هغه د هېڅ هم لحاظ نه
کوي. طوطي را روان وه. او س ما محسوس کول چه طوطي به څما مړی خښه کړي. هغه
ما ته ډېر نږدې راغې او یوه چغه یې او ویسته چه څما د ملا تیلی ترې هم وربېده"
طوطي دې کښ اوویل زه را غلی یم. را غلم چه تا اوخورم. خورم" څما اوسان خطا
شو. ما ته بلکل تیاره وه. یو څو سیکنډه کښې بیا څما سترګې وغړېدې چه ادم کتل
طوطي نشی آره خ د سوات سین طرف ته په منډه وه" څه یو تسکین شاه واغسته
او د خداوند تعالی پاک بزرګ و برتر ثنا صفت م اد اکه. چه زه بچ شوم. ما بلکل

# شپږمه قصه

## د پیریانو په باره کښې یوه قصه

دا قصه څه کالو نه مخکښې تیره شوې ده چه یوه ورځ د نمر پریوتو په خوشګوار او خاموشۍ وخت کښې دوه سړی رحمت الله او د هغه ملګرے طوطي د ډنګرام کلی نه خپل کلی ګوګدرے ته روان وو چه شپه کیده نو دوئ منګورے کلی (چه هیون سانګ چینی سیاح په پخوانئ زمانه کښې لیدلے وو) ته ورسیدل۔ دلته دوئ د کباب او ډوډئ خوړلو د پاره دمه وکړه۔ ځکه چه دا ښار د دے قسم خوراک د پاره مشهور دهٔ۔

د خوراک نه وروستو دوئ خپل سفر ګوګدرے ته بیا شروع که دا اوس تیاره شوې وه۔ او په آسمان کښې ورېځې هم جمع شوې وې بلکل چپه چُپې وه لیکن د هغه خوا دیخوا ګلو نه د سپو غبار اوریدے کیدهٔ :-

دوئ رحیم آباد (پخوانئ سرکنئ) نومے ځائے ته اُورسیدهٔ دا ځائے د پیریانو د پاره ډیر بد مشهور دهٔ۔ د غلته د لارے نه ګس اړخ ته یو مقبره کښې چه ګیرچاپیره ئې ګڼړے ونے وے د سړو یوه غونډه ناسته وه رحمت الله او د هغه ملګرے حق حیران پاتے شو۔ د دے سړو جامے تکے سپینے وے، دے کښې طوطي اُووے چه تلهٔ پکار دی چه د دے خلقو دے وخت کښې د را غونډیدو سبب معلوم کړے شی، چه کنے څوک سړے مړ دے یا دوئ څوک عتبخان مخه وی۔ یا دا د جنازے غونډه ده۔ لیکن څنګله په داسې بے وخته موقعه کښې۔ دا سړے (طوطي) د سړو د غونډے په طرف روان شهٔ۔ او رحمت الله په ډیره تلوسه کښې د خپل ملګری د واپس راتلو په انتظار کښې ولاړ دهٔ۔

سپې ځ دے۔ چه په دے غزا کښې ذ دوی ملګرے وه۔ او ذ روایت مطابق غزا کښې مړ شوے دے:۔ چه کوم ځائے غازی صاحب غورزیدلے وه۔

ذ منجادیوی مخکښې معلومات نیشته۔ بیا هم ویلے شی چه ذ هغې واده ذ محمود غزنوی په فوځ کښې ذ یوسم معتبر سړی سره شوے وه۔ ویلے کیږی چه ذ هغې پلار راجه ګیرا شمالی سوات کوهستان طرف ته ذ مسلمانانو ذ یرے نه د تختیدو۔ دغلته په جوړ ځائے کښې ذ غزونو په مینځ کښې ئې ورنګل او مړ شه:۔

دا قصه رحمت الله اُستاد شاعر بیان کړے ده
چه عُمر ئې یعنې شپیته ۶۵ کالو نه دے، ذ دوه پیښی
کلے کوکډره دے او اُوس په مکانباغ کښې سکونت کوی

والي چه د راجه ګیرا پوه بنګلے لور وه چه لوم یې منجا دیوی وه. او چه د محمود غزنویؒ فوځ کښې پیر خوشحال غازیؒ جنګیده نو د دے په نظر وګیاو، او د دهٔ د نوراني چهرے په لیدو سره به دهٔ عاشقه شوه او مسلمانه شوه. هغې یوسړے به غازي صاحبؒ پسے را اُو لیږه. او دا یې ورته ویلی وه چه قلعه ته او به د لاندې سین (سوات سین) نه د پټو د قطار په ذریعه راځلی دی، ترڅو پورے چه دوی دا د اوبو سلسله نه وی ختم کړی نو دا ممکنه نه ده چه دوی قلعه ګټی او خما پلار اُو وهی، چونکه د ډیرو ورځو راسے د قلعه د سرکولو کوششونه ناکام شوی وهٔ. په دے وجه پیر خوشحال غازیؒ په دے اطلاع باندې ډیر خوشحاله شهٔ. غازی صاحبؒ فوراً د دے خبر اهمیت محمود غزنویؒ ته او ده دے نه پس یو مشاورتی جرګه طلب شوه چه دا مسئله حل کړی چه په څه طریقه به د اوبو لار معلومه کړے شی، د محمودؒ په لښکر کښې یو هوښیار او تجربے والا سړے وهٔ. هغه پا خیده او وې ویل. موږ ته پکار دی چه یو څو آسونو له ګرم خوراکو نه ورکړو. او اوبه ورله بیا نه ورکوو. هرکله چه دوی د تندے لیونی شی. بیا به یې پرانیزو. تاسو ته د آسونو فطرت ښه معلوم دے. هغوی هغه هر شروع کړی او څښه وهی. چه کوم ځائے اُو به محسوس کړی. په دے طریقه به موږ د اوبو لار معلومه کړو. د هوښیار سړی الفاظ بلکل ټهیک وو. د اوبو لار یې په دے طریقه معلومه کړه او بیا یې ورانه کړه ::

د راجه ګیرا فوځ ته د موقعے نزاکت معلوم شهٔ او بهرته د جنګ به راوتو مجبور شهٔ. فوځونه جنګیدل. کنه چه نشان بلاس د پوځونو مخکښې زغاحت نو اول شهید شهٔ. پیر خوشحال غازیؒ بیا نشان پخپل لاس کښې واغسته او جنګ یې شروع که :- دوه میے کس لاس او بیا یې ښے لاس شهیدان شو. بیا یې نشان په خوله کښې ونیوهٔ. او د دشمن په فوځ کښې په مخه روان وهٔ. هیڅ هم نه شهٔ را منع کولے. یو سخت ګذار دے کښې د هغوی سر د تن نه بیل کړهٔ لیکن د هغې پرے هم څهٔ ذره اثر نه وهٔ، د هغې پورے چه هندوان یې اُو وهل د دهٔ بدن په څه فاصله د سر نه جُدا اخځ شوے دے. کوم ځائے چه د دے غورځیدلے دے او سر یې جُدا اخځ دے، د بدن په خوا کښې کس طرف ته د هغوی

# پنځمه قصه

### دَ راجه ګيرا دَ لوړ متعلق يو روايت

دَ يولسمې صدۍ په شروع کښې (سنه ۱۰۰۱ع) محمود غزنوی يو مسلمان شهزاده دَ افغانستان (چه دَ سلطان محمود غزنوی په نوم مشهور دے) ته دَ هندوستان دَ فتح کولو په موقع دَ وادۍ سوات په جنوبی طرف کښې دَ اوډيګرام په مقام يو قلعه سرکول پيښ شوی وو۔ دَ دے قلعه او ورسره دَ نورو ملحقه علاقو حکمرانی يو ګيرا نومے راجه وو هغه کوله۔ او دَ دے راجه انتظام داسے محکم وو چه محمود غزنوی ته سرکول ډير مشکل شوی وو دَ راجه په قبضه کښې يوه ناقابل تسخير قلعه وه۔ او دَ او يو انتظام دَ دۀ دَ ځائے هم نه معلوميدۀ، دَ دۀ فوځ دَ کافی حده پورے په ښۀ حالت کښې وو۔

يوه شپه دَ دے ناکامے په حالت کښې محمود غزنوی يو خوب وليدۀ، او په خوب کښې ئې رسولِ پاک ﷺ وليدۀ حضورِ پاک ﷺ دۀ ته وفرمائيل ''چه ستا دَ فوځ سالار دِ ځما دَ نسل نه مقرر کړے شي'' هر کله چه دَ افغانستان شهزاده راويښ شۀ نو فوراً ئې دَ خپل ماتحتانو نه تپوس وکړو۔ چه ګيرے زمونږ په فوځ کښې يو سړے دَ رسولِ پاک ﷺ دَ نسل نه دی۔ کنړ نومے يو سړے وو۔ هغه او ويل۔ اَوُ يو سړے داسے شته او دَ هغه نوم پير خوشحال'' دے (او س په سوات کښې په پير خوشحال غازیؒ مشهور دے) ولے دے زمونږ دَ فوځ سره تړل نه دے، بلکه چرته دَ لرے علاقے نه راغلے دے او دَ رسولِ پاک تعليمات خوره وی۔

محمود غزنوی کنړ ته حکم اُوکړو چه دغه سړے دِ ما ته راحاضر کړے شی کنړ روان شۀ۔ او پير خوشحال غازیؒ ئې دغه وخت دَ جماعت په يو کوټ کښې په مراقبه اوليدۀ۔ کنړ ورته دَ شهزاده حکم اُووے۔ او دواړه سره راروان شو۔ پير خوشحال غازیؒ چه محمود غزنویؒ نه پيژندۀ بلکه په خپله رضا دَ دۀ دَ فوځ په مرسته کښې ئې جهاد کاوۀ۔ خودَ (پير خوشحال غازی) محمود غزنویؒ دَ رسولِ پاک ﷺ دَ هدايت مطابق دَ خپل فوځ سالارِ اعظم مقرر کۀ۔

خو خان اَس یو چابک اُو واهه او دَ یرې نه رېپیدهٔ. ولې دَ خان سره سپهٔ په تېزئ دَ زنانه خوا ته ذدروا پس شهٔ. خان دَ جینئ نه بیا تپوس اوکړهٔ چه څوک یې او چرته ځې. جینئ ورته اُو ویل چه اے خان صاحب ته لیونے یې او که نشه دِ کړې ده. ستا څما سره څهٔ غرض دے چه بار بار تحقیق کوے څه صوفي سړے یې او دَ نمانځه وخت در بانډې تیریږی، خان وُیریدهٔ او واپس شهٔ. بیا چه څهٔ مینځ لاړ شهٔ نو خیال یې وُکه چه دَ زنانه نه وُیریدم او تحقیق نه بغیر م پریخوده :-

لیکن دے ځل اَس هرګز نه قابو کیدهٔ خان دَ اَس نه کوز شهٔ او دَ واګے نه یې اُو نیوهٔ او روان شهٔ او بیا سور شهٔ او یو چابک یې اَس اُو واهه او دَ زنانه طرف ته ولوختهٔ. زنانه یې یو چابک او وهله اَوْ وُ یې ویل چه باځه څخکنیې شه څه زنانه مخ را وګرزاوهٔ او وُ یې ویل چه خبردار عبدالرّحیم خان خپله حیا وُساته کنه تا به سره دَ اَس نه دا سے علاقے ته ارتاؤ کړم چه غوښے او هډوکی به دِ څوک وُ نه وینی. خان ډیر وُیریدهٔ او خدائے تعالیٰ پاک ته یې خپل پیر دَ سید غوث" روئي ارکړهٔ او یو سنډه یې خیرات دَ خدائے تعالیٰ پاک په نامه او مانهٔ به خان یو هم نه وهٔ چه اَس به شا بانډې خپل کور ته وُ رسا وهٔ، او بیا خلویښت ورځے په تبه بانډې ناجوړه پروت وهٔ :-

دا قصه قاضي غلام ربّانی دَ منګوړے بنا کړې ده
چه دَ اتیاؤ کالو په عُمر کښې وفات شوے

# خلوَرمه قِصّه

## شاشه بلا

شاشه بلا پیرے نه ده بلکه بنی آدمه ده - شاشه بلا په حقیقت کښے زنانه ده چه دَ حیض په دوران کښے یا په وجه دَ کورنی کړبړ دَ دے دَ مغزو توازن خراب شی او کاکیره لیونۍ شی - دا خپل کور او خاندان پریدی او خوشو ځایو ته لاړه شی - په داسے حالات کښے دا دَ خلقو دَ یرے یو سبب جوړ شی - ځوک چه په داسے ځایو کښے دا اُووینی - ډیر کالو نه آګاهو په سوات کښے دَ شاشه بلا ډیر واقعات موندے کیدل - او اکثر خلق په دے وجه په خوشو ځایو کښے مړه شوی دی -

دَ یوے شاشه بلا قصه :- دا قصه دَ یوے شاشه بلا متعلق دیلے کیږی - وائی چه په بارړی توکلی تحصیل بریکوټ سوات مغربی پاکستان کښے یو سړے وو چه نوم ئے عبدالرحیم خان وو هغه ډیر دیندار او مالدار وو - دَ نوے صدئ په آخری برنبه کښے یوه ورځ دَ ماښام دَ نمانځه نه پس مخکښے عبدالرحیم خان خپل نوکر ته حکم اُوکړو چه آس زین کړه او دَ جماعت مخے ته ئے راوله - نوکر دَ وینا مطابق یو مست آس زین کړے راوستله - خان صاحب پرے سور شو - او دَ مغرب په طرف دَ شموزو علاقے بله روان شه - خان په ډیره مزه تقریبًا دوه میله لاړ شو - چونکه چه خان یو نیک سړے وو او دَ نمانځه پابند وو نو آس ئے واپس کړو چه راته تو کُلے له راغے چه د غلته ئے یو بنگله زنانه اُولیده چه دَ لارے سره ځُخته ناسته وه ، دے چه خان ولیده نو شاتې کړه - خان ترے تپوس اُوکړو چه اے جینئ ځوک ئے او دَ کوم ځائے ئے او چرته ځے ؟ جینئ په ډیره غُصه کښے او ویل چه اے خان صاحب ستا دَ پردو زنانه وُ سره څه کار دے - خان چونکه یو پرهیزګار او دَ مشهور دَ سوات دَ صاحب باباؒ مرید وو او نیک سړے وو نو دَ غرض ئے پرے و نه کړو او ترے روان شو قدرے چه لاړ شو نو خیال ئے اوکړو چه دَ دے زنانه کیفیت دِ ولے مهمل پریخود - راشه واپس شه او یوره اثبات ورسره اُوکړه - لیکن آس واپس تلو ته تیار نه وو او خرشکید

# دریمه قصه

## دَ بزرګانو پټ پټونے

دا یو روایت دَ مشهور بزرګ پیر باباؒ دَ بونیر (سوات) او دَ دهٔ دَ مرید اخوند درویزه باباؒ دے۔ آخوند درویزه باباؒ یوځل خپل پیر ته اُو وے راځه چه پټ پټونے کوُ۔ پیر بابا اُو وے تهٔ ځکښې پټ شه۔ آخوند درویزه باباؒ غوږه پله روانه دَ غواګانو یوه لویه ګوهار دلیدهٔ نو هغه خپل ځان ګوهار کښې دَ یوے غوا په خکر کښې پټ کهٔ۔ پیر باباؒ هم دغه غوا پسے روان شهٔ۔ او چه نزدے راغے نو آواز ئې وُکهٔ۔ راوځه آخونده دَ خکرنه را ووځه۔

اُوس دَ پیر باباؒ پیره ده چه پټ شی۔ دے دَ کراماتو په طاقت پټ شهٔ۔ آخوند درویزه باباؒ خپل ټول کرامات استعمال کړهٔ او خپل پیرئې دَ زمکے په سر دَ زمکے نه اُوچت او دَ زمکے نه لاندې وُلټاوهٔ۔ لیکن عاجز پاتے شهٔ۔ په دے نا اُمیدئ کښې هغه آواز وُکهٔ۔ پیره ما او بیلله۔ ما اُو بیلله :-

ځه ساعت پس هغه وُکتل چه ځه خیز دَ هغه نه څه ګز ونه بیرته غونزیدهٔ او چه دهٔ په غور سره وُکتل نو حق حیران شهٔ چه دا ځه دی۔ هغه نزدے او سبهٔ نزدے راغے۔ حیران شهٔ اُو وَئې لیدل چه یو جسم په دوه پړو کښې نغښتے او یو آواز ترے وُشهٔ چه زهٔ دَ زمکے په تراخ کښې پټ شوے وم "اے آخونده" دَ غوا په خکر کښې دِ ولے څوک پټ شی، ځکه چه دَ زمکے خاورے نه مونږ جوړ یو۔ او دَ زمکے خاورے ته به مونږ واپس ځو۔ دَ انسان دَ پاره بل سبهٔ ځائے دَ پټیدو نشته۔ دا ځائے (زمکه) دَ پټیدو دَ پاره خداوند تعالیٰ پاک مقرر کړے دے، دَ هر یو او دَ ټول مخلوق دَ پاره۔ دَ پیغمبرانوؑ او دَ بزرګانوؒ دَ پاره، دَ بادشاهانو او دَ ملکو دَ پاره، دَ نیکانو او دَ ګنهګارانو دَ پاره۔ مونږ ټولو دَ پاره آخری دَ آرام ځائے دلته دے، مونږ به ټول خاوره شکله وُو۔ مونږ ټول دَ خاورے حصه یو۔ لیکن خداوند تعالیٰ زمونږ دَ هر څه نه اعلیٰ او بالا دے

---

دا قصه امیر میان دَ ګلیګرام (سوات)
بیان کړے ده چه عمر ئې ۸۰ اتیا کلو نه دے

چه یو بربنډ او څپړ اَبله فقیر یو دولتمند سړے غلط ثابت کوی، خلق نو حیران ده چه څنګه به کیږی ددئ دیل چه یو لیونے سړے به دَ توب دَ مقابلے خیال دِی. بعضو هُښیارو خلقو بزرګ ته خواست اوکړو چه دَدا بے عقله او سخت کار نه وګرځی:-

توپ وچلوه بزرګ په ځوره اُوو ے. خداوند تعالیٰ څما ملګرے دے خداوند تعالیٰ دَ بے یارو مددګار دو او غریبانو ملګرے دے. دَ خلقو غوږونه خپل ساه بند کړو. بعضو سترګے پټے کړے. بنځو او وړو چغے کړے. بینګ بینګ توپ وچلید ه :-

یو ساعت بزرګ دَ موقعے نه غائب شو لکه چه په ذرّا تو کښے الوتے وی لیکن چه ظالم سوداګر او دَ خلقو غو نږے په غور سره اُوکاتلو نو هغوئ ته دا معلومه شوه چه دے توپ ګولئ نه ده چلولے بلکه اوبه. بزرګ په اُوبولمبیدلے وه او دَ هغه مرید اُو دیل چه څما پیر ته دَ لمباو ضرورت وو

هندو سوداګر نور هیڅ هُ نه ویل بلکه دَ بزرګ په خپو پریوت اُو دَ یے ویل. زه ستا په اللهٗ یقین کوُم. مهربانی وکه ما معاف کړه زه به تا ته خپل ټول دولت درکړم. بزرګ جواب ورکه چه ما ته ستادَ دولت ضرورت نشته خداوند تعالیٰ پاک ستا څه شی ته حیران نه دے، بلکه ته دَ خداوند تعالیٰ په رحم وکرم نے کوم کوم وخت چه ما تا ته دَ درقم او دے. ما ته صرف از میلے، لیکن ته یو کمزورے سړے وَ خُتے خداوند تعالیٰ پاک دِ تا ته اوس طاقت درکړی.

بزرګ میان افضل باباً بیا سوات ته واپس راغے او دَ سیدو شریف صاحب باباً چه دَ سوات مشهور بزرګ وه هغه ته وراغے، چه کوم وخت کښے دے دَ سیدو باباً کوټګئ ته دننه شه. نو صاحب باباً وَ ده ته دَ عزت په وجه پاځیدو. باباصاحبٌ یو ددرزی را اُو غوختو چه ده له نوی زړدکی جوړه کړی او بیا سید د باباً بنځو نښّ روپۍ هغه ته په نظرِ عقیدت سره پیش کړے :-

دَ سیدو باباً یو مُرید چه نوم یې یاسین باباً وه تپوس یې اُوکړو چه دا سړے څوک دے:-

دا ذ پیر باباً لمسے دے او هغه دَ جوارئ دَ غوزه نه (دا غوزه سوات دَ بونیر نه بیلوی) ګوری او خوشحالیږی چه په کومه طریقه مونږ دَ هغه دَ خوی سره سلوک کوو - او څه ساعت وروستو میان افضل باباً غائب شه :-

{دا قصه امیر میان دَ کلیګرام بیان کړے ده چه عمُر یې اتیا کالو نه دے}

# دویمه قصه

## دَ میان افضل بابا متعلق یو روایت

ضروری:- میان افضل بابا دَ مشهور بزرګ پیر بابا نمسے دے. دَ پیر بابا وطن افغانستان وهٔ. لیکن دے بونیر (سوات) ته راغے او هلته اُوسیدهٔ دَ وفات نه وروستو دَے په بونیر کښې دفن شهٔ:-

میان افضل بابا دَ پیر بابا نمسے لکه چې قصه کښې بیانیږی هندوستان ته ډیر کالو نه پخوا تلے وهٔ. دَ سفر دوران کښې دهٔ سره پیسے ختم شوے او یو دولتمند هندو سوداګر ته ئے اُووے چې ما ته دَ پنځوسو (۵۰) روپو ضرورت دے که دا ته راکوے شے:-

سوداګر یو خراب کنجوس وهٔ او وَئے ویل. زهٔ به تا ته درکړم لیکن ته به معقول سود راکوے. او هسے تپوس کوم چې کله به رقم واپس کړے. بزرګ (میان افضل بابا) جواب کښې اُو وئیل رقم چې تهٔ راکړې نو هغه به دَ خداوند تعالیٰ قادر مطلق په نام دی. نو بیا خو دَ واپس کولو سوال نه پوره کیږی:-

لیکن سوداګر اُو وئیل چې کچرے هر یو سړے ځانه دَ خاوند تعالیٰ په نام باندې رقم غواړی نو زه به ذر دیوالله شم. لیکن بزرګ چې زړو جامو کښې ملبوس وهٔ او د یخته ئے به اوګو خوارهٔ وارهٔ ذنګیدل جواب کښې ئے او ویل چې زهٔ دَ نورو نه بل شان یم، سوداګر او ویل چې په کومه طریقه ته بل شان ئې. تهٔ هم ځما شان یو سړے ئې. او که ته په څه طریقه بل شان ئې او نبهٔ ئې نو دا ثابته کړه. دلته داسې ډیر بوبنړ فقیران دی ستا پشان او په هغوئ کښې یو هم ځما توپ ته مخ نهٔ شی نیوے چې زهٔ ئې وچلوم:-

بزرګ خفه شهٔ او غُصّه کښې ئے او ویل. "ته خپل توپ را مخامخ کړه. که خداوند تعالیٰ ما باندې مهربان وی نو زهٔ به بچ شم":-

توپ راوړے شهٔ او دنګولے شهٔ. په زرګونو مخلوقات جمع شهٔ. او کا ته ئے

دا سړے د لته دَ تما مو راتلونکو خلقو نه يو بلکل غير متوقع سړے وۀ- هان- هان- تاسو به حيران شئ او ډير به حيران شئ، که زۀ تاسو ته اُووايم چه دا کثرےدُ نياوی خواهشات او حرص وۀ- او بشونکړئ نه مطلب شيطان وۀ- او دے سړی دا ټول خيز د نه پخپله قبضه کښے راوستی وۀ، دا زمونږ دَ ټولو دَ پاره حقيقتًا يو سبق دۀ- بابا يو ساعت بعد بيا په نختی او دَ احساساتو نه ډک آواز کښے اُو ويل- "دا سړے په بزرګانو کښ شهزاده وۀ- حقيقتًا شهزاده- زۀ تاسو ته وايم- هغه- هغه دَ سهوان شريف شهباز قلندر وۀ-"

مريدان حق حيران شو- او همدام شيخ خو دَ ډير جوش نه اُو ويل "پير صاحب پير صاحب- تامونږ ته مخکښے ولے نه و ے- مهربانی اوکه مهربانی هغه ته اُووايه چه مونږ ټولو ته دُعا وکړی- ځئ چه ټول ورته بيا هر کله اُووايو- چه مونږ ته دَ نيکئ تلقين اوکړی- مهربانی پير صاحب"

بابا صاحبٔ يو ساعت خاموش شۀ- سترګے ئې پټے کړے- لکه په وَجد کښے بيائې بيرته کړے او وَئې ويل "ستاسو دا خواهش دے چه مونږ ټولو دَ هغه دُعا حاصله کړے وے- ستاسو خواهش دے چه دا سے شوے وے، ليکن- ليکن- هغه اوس دَ سترګے په رپ کښے دَ کرامت په طاقت ډيره فاصله وهلے ده، بلکه هغه دَ اټک سره دَ آباسين نه پورے وتے دے- ليکن اے ستاسو مريدانو دا خۀ عجيبه خبره نه ده، ځکه کوم خلق چه دَ خداوند تعالیٰ په لاره باندې روان وی هغوئ دا سے طاقت لری"

(۱) سهوان شريف په سِندهٔ مغربی پاکستان کښے دے، او په سوونو ميله دَ سيدُو شريف سوات نه لرے دے- سهوان شريف دَ شهباز قلندر رحاۓ مدفن دے، دغلته کښے دَ پاک بزرګ ته دَ خراج عقيدت پيش کولو په غرض هر کال يو شاندار ميله لږی:-

(۲) دَ سوات سيدو شريف او اټک مغربی پاکستان په مينځ کښے فاصله هم دَ سلو ميلو نه زياته ده- او دَ سهوان شريف غوث" بنکاری چه دَ يو منټ نه هم کم وخت کښے وهلے ده ځکه چه دَ عقائدو مطابق دا سے طاقت دَ اسلام غوثان او بزرګان لری:-

دا قصه دَ منکودے ملاک بازدا بيان کړے ده چه دَ
اوياؤ کالو په عُمر کښے وفات شوے دے

سړے دننه راغے، دَ دهٔ په سترګو کښے لوئ اثر وهٔ، دَ دهٔ دَ مخ نه
دَ بزرګئ عکس ځليدهٔ. لکه دَ اوبو دَ آبشار په شان دَ دهٔ ويخته
په اوګو زنګيدل. دَ دهٔ جامے معمولی غوندِ وے. ليکن هرڅنګه خيرې وړې
چه وے دَ دهٔ بدن ئے ښبهٔ پوره پټ کړے وهٔ. او دَ تعجّب خبره هاں
ويره دَ تعجّب خبره دَ ټولو نه دا وه چه دَ دهٔ سره په يو ترخ کښے
ورکوټے ګُترے وهٔ. او په بل ترخ کښے ورسره پښو نګړے وهٔ

سيدو باباؒ صاحب چه ناست وهٔ او دَ خپلو مريدانو سره په خبرو اترو
مشغول وهٔ. ناڅاپه ئے دا ناشنا سړے دَ کوټئ دَ دروازے نه دننه و لاړ
وليدهٔ. بابا صاحبؒ هډو دَ يو ساعت ضائع کولو نه بغير لکه دَ برېښنا پښان
پاڅيدهٔ او ودريدهٔ. دے مريدانو کاتهٔ چه په بابا صاحبؒ دَ دے خيرې وړو
جامو واله سړی شان و شوکت پوره اثر اندازشهٔ، مريدانو دا نظاره په
ډير تعجب سره کته، دوئ بلکل نه پوهيدل. چه دا ټول څه مطلب دے
بيا هم هيچا تپوس نه شهٔ کولے. مريدانو کاتهٔ او دا سړے دَ سيدو باباصاحبؒ
طرف ته روروان شهٔ. نزدے شهٔ. نو رهم ور ته نزدے شهٔ. بيائے
روخپل لاسو نه اوچت کړل. دَ مُريدانو ساه په ختو وهٔ. دوئ ته پته
نه وه چه دا سړے به ځنګښې څهٔ کوی. ګنې دے دَ دوئ پير صاحبؒ ته څهٔ
تکليف رسوی! نه. نه. دوئ تعجب وا غستهٔ چه دغه سړی په ډير
شفقت سره بابا صاحبؒ په ملا باندِ وُټهپاوهٔ. بيا دوباره او په دريمه پيره
ئے هم وټهپا وهٔ.

لږ ساعت وروستو بيا دا سړے وا پس وګرځيده. دَ دے دَ کوټئ نه بهرو
ليکن تيزو قدمو نو سره بهر اووت. په کوټئ کښے خاموشی شوه
خاموشی. ساه چا ناغستهٔ. ټس پُس چا نه کاوهٔ. ما سوا دَ تيلو دَ ډيوے دَ
بليدو نه چه کوټئ ئے رڼا کړے وه.

مريدان هغه شان حيرانيدل او حيرانيدل، په ټولو حاضرو مريدانو
کښ صرف هدّام نومے شيخ دَ تپوس کولو جرأت وکه. "پير صاحبؒ دَ دے تمام مطلب څه وهٔ
او دا په زړو جامو کښے ملبوس ملنګ څوک وهٔ. دَ دهٔ يو ترخ کښے ګُترے وے وهٔ
او بل کښے پښو نګړے وے وهٔ. او تهٔ دَ دهٔ هر کلی ته ولے پاڅيدے؟"

# اوّله قِصّه

## یوناڅاپه میلمه

ډېر کالونه مخکښې یو خوشګوار ماښام وۀ. مزیداره هوا په سیدو شریف سوات باندې چلیده. او ټوله د روحانیت نه ډکه وه، د آسمان غاړې سور رنګ راوړې. او ورېځې هم وې چې ټوله زمکه یې روڼانه کړې وه۔

دا یو عجیبه جوړښت د یو فنکار د پاره وۀ، لیکن په ډېر مشکله به د وخت یو سړې هم نه ښکاریده چې دا نظاره اُووینی، تقریبًا ټول خلق پخپلو حجرو کښې وۀ، او د خپلو خپلو خپلو نو یعنې ډلو پرو خبرې اترې یې کولې۔

لیکن د غلته (سیدو شریف) کښې د برکت نه ډکه یوه کوټګۍ وه چې په هغې کښې یو سړے ناست وۀ. دۀ سره څۀ دُنیاوی څیزونه نه وو. د دۀ څۀ سیاسی اقتدار نه وۀ، بیا دے هم د ټولو خلقو نه طاقتور او قابلِ احترام په ټول سوات کښې ګڼړلے کیدۀ، خلقو به دۀ ته د ډېرې مینې او عزت په طور سیدو باباؒ وے. حالانکه د دۀ اصلی نوم حضرت عبدالغفورؒ وۀ. هاں دے د دے علاقې یو لوئ بزرګ وۀ

د باباصاحبؒ دا قاعده وه چې د خپلو مریدانو سره به یې د نمر پریوتو نه وروستو خبرې کولے، د خبرو اترو دا دائره به بعضې وخت ډېره اوږده کیده. او چونکه باباصاحبؒ یو دانا او عالم سړے وۀ نو دا خبرې اترې به د مریدانو د پاره ډېرے باعثِ برکت او د خوند ډکې وے۔

لیکن په دے ماښام یوه عجیبه واقعه وشوه. کله چې باباؒ صاحب د یوے مذهبی نقطے وضاحت کاوۀ، نو د برکت نه د ډکې کوټګۍ دروازه ناڅاپه را ټیل وهلے شوه. بېرته شوه، او یو ناپېژندګلوی غیرمتوقع

بعضې قصې پکښې داسې دي چه په خلقو پخپله تېرې شوې دي، او هم هغه خلق لا تراوسه ژوندي دي. د اسلامي وخت د قصو پکښې خاص خيال لرلے شوے دے. او بعضې داسې روايتونه جمع شوي دي. چه هغه د لويو لويو بزرګانو لکه حضرت پير بابا، حضرت صاحب بابا د سېدو شريف. او پير خوشحال بابا صاحب متعلق دي :-

دے سلسله کښې زه د جناب ډاکټر ايف۔اے خان صاحب "ستاره امتياز تمغه پاکستان" ډائرکټر محکمه آثارِ قديمه حکومتِ پاکستان ډير زيات مشکور يم. چه هغوئ ما ته د دے کار کولو اجازت راکه. او ځما حوصله افزائي ئې د کړه او په دے وجه ما خپل کار ښه په اطمينان سره مکمل که، کچرے هغوي ځما رهنمائي نه وے کړے، او ځما حوصله افزائي نه وے شوے نو ما هيچرته دا کار سرته نه شه رسولے. زه د هغوئ ډير مشکور يم،

زه د جناب پروفيسر ډاکټر جي توشي صاحب هم مشکور يم، چه هغوئ ډيره مهرباني کړے ده. ځما رهنمائي ئې کړے ده، او د دے کتاب په چاپ کيدو کښې ئې ذاتي دلچسپي اخستے ده. زه د هغوئ ډير مشکور يم :-

او په آخر کښې زه د هغه ټولو خلقو شکريه ادا کوم چه چا ما ته دا قصې بيان کړې دي. او د هغو خپلو دوستانو هم شکريه ادا کوم چه چا ما ته دے سلسله کښې رائې او مشوره راکړے ده :-

---

عنايت الرحمٰن
ايم۔اے
سوات ميوزيم۔سيدو شريف
۲۹، نومبر ۱۹۶۶ء

# د مصنّف نوټ

څهٔ وخت چه ما ته جناب پروفیسر ډاکټر جي۔ ټوشي صاحب د سوات د ښوانو قِصو د جمع کولو په باره کښې اُووے، نو ځما خیال کښې هغه وخت داسے نه راتله چه کښې د دے قصو به څهٔ خاص اهمیت د سوات د ښوانې زمانې په آثارو باندِ وی۔ لیکن کله چه ما دا قصے جمع کول شروع کړل۔ نو ما ته د عجائبو یوه نوے دروازه بیرته شوه، او دا مِ محسوس کړه چه په دے هسے خالی قصو کښې خو هم څه نه څه رښتینې خبرے شته، ډیر تاریخي واقعات چه زبانی د یو نسل نه بل نسل ته رسیدلی دی۔ او پکښې ډیر رښتینې واقعات هیر شوی هم دی، لیکن بیا هم څه نه څهٔ حقیقت پکښې ضرور موندے کیږی:-

که تاسو دا قصے په غور سره ولولئ نو تاسو ته به معلومه شي، چه په دوئ کښې مذهبي، تاریخي واقعات او روایات موندے کیږی بلکه بعضے نومونه چه ذکر شوی دی نو ډیر دلچسپ دی، ځکه بعضے خو پکښې یونانی او ایرانی دی، او د مختلفو مذهبو نو اثر ښئ، کوم سره چه د دے علاقے د خپل تاریخ په دوران کښې پیژندګلو هم شوے وه۔ او لکه نوروز۔ اورمیخ، هورمز او ردهدا به خو بلکل د اِسلام د وخت نه مخکینی نومونه دی، او کیدے شي چه لا نور هم ښوانی وی:-

بعضے داسے قصے دی چه هغه د سړی یقین خاص کوی چه د سوات علاقه په ښوا زمانه کښې د عبادت نه ډکه وه، او بعضے داسے حوالے قصو کښې هم راځي چه د هغې نه معلومیږی چه ډیر کاله خلقو به سوات کښې د اُور عبادت کاوهٔ، بعضے قصے بلکل دا دلالت کوی، چه د سوات تبّت او چین په مینځ کښې ښهٔ ثقافتي تعلقات وو:-

د قصو دا مجموعه صرف په روایتو نو باندِ مشتمله نه ده، بلکه

# اِنتسَاب

دا کتاب زهٔ دَ خپل مهربان محبُوب

هزهائی نس میجر جنرل میان گُل

## جهان زیب

حُکمرانِ ریاستِ سوات په اِسمِ گرامی

منسوب کوم

عِنایتُ الرّحمان

# دسوات پخوانۍ قصې

عنایت الرحمٰن

ایم۔ اے ٭ کسټوډین

سوات میوزیم

سیدو شریف۔ مغربی پاکستان

(بکتابتِ فیضان شاعرِ سوات)